**د کورني امنيت وزارت**
د امريکا د تابعيت او کډوالۍ خدمات
**عدليې وزارت**
د کډوالۍ د کتنې لپاره د امريکا اجرايي اداره

OMB شمېره. 1615-0067; د ختمېدو نېټه 2022/31/07

# I-589, د پناه غوښتلو او له ايستل کېدو د ځغورل کېدو لپاره غوښتنليک

## لارښوونې

### خبرداری - مهم يادښتونه

- **په ناقانوني توګه په امريکا کې غوښتنليکونه د ايستلو سبب کېږي، که چېرې د پناه غوښتنې يا ساتنې ادعاوې د پناه غوښتلو د يوه افسر يا د کډوالۍ د قاضي له لوري نه وي تضمين شوې. د دغه غوښتنليک په بشپړولو کې هر راز وړاندې شوي معلومات کېدای شي د ايستلو د اقداماتو د پيل د اساس يا د دې د شواهدو په توګه استقاده شي، ان که غوښتنليک وروسته ثبت هم شي.**
- **که چېرې غوښتنه کوونکي په شعوري توګه د پناه غوښتلو بې معنی غوښتنليک جوړ کړی نو د کډوالۍ او تابعيت د قانون(INA)له مخې به د تل لپاره له هر راز ګټو بې برخې شي. تاسو ښايي په اسانۍ له بې معنی معلوماتو ډډه ونه کړئ ځکه چې ښايي يو چا درته ويلي وي چې په خپل غوښتنليک کې ناسم معلومات وړاندې کړئ. د INA اړوند 208 (d)(6) سېکشن او د داخلي مقرراتو کوډ (CFR) اتم 8 عنوان او 208.20 او 1208.20 سېکشن وګورئ.**
- **د امريکا د تابعيت او کډالۍ خدماتو(USCIS) د دوسيې پر وخت که پرته له کومې پلمې ملاقات يا بايومتريک (لکه فنګرپرينټ) يا د بيوګرافۍ اړوند کومو معلوماتو ته پر وخت حاضر نه شئ، دا ښايي د ګومارنې اجازه وځنډوي او د دې سبب شي چې د پناه غوښتنې افسر ستاسو غوښتنليک پرېږدي او د کډوالۍ قاضي ته يې راجع کړي.**
- **هغه غوښتونکي او د ايستلو د اقداماتو اړوند کسان چې USCIS ته پر وخت خپل بايومتريک او د بيوګرافۍ اړين معلومات له کوم دليل پرته وړاندې نه شي کړی د کډوالۍ د قاضي له لوري يې غوښتنليک پرېښودل کېدی شي. د INAاړوند 208(d)(5) سېکشن او د 8CFR دغه 208.10 او 1208.10 او 1003.47(d)سېکشنونه وګورئ.**

### د دغه فورم موخه څه ده؟

دغه فورم په امريکا کې د پناه غوښتنې او له ايستلو(چې رسماً "د ډيپورټ کېدو مخه نيول" ورته وايي)د مخې نيولو لپاره کارېږي. دغه غوښتنليک همداراز د دې لپاره کارېږي چې د شکنجې پر وړاندې کنوانسيون لاندې د ځان ساتنې لپاره غوښتنه وکړئ. که تاسو د امريکا تابعيت نه لرئ، خو په فزيکي بڼه په امريکا کې يئ، نو دغه غوښتنليک وړاندې کولی شئ.

نوټ: تاسو بايد د پناه غوښتلو لپاره غوښتنليک، امريکا ته راتګ وروسته په 1 کال کې ډک کړئ، مګر دا چې تاسو تصديق کړئ چې دلته يو بدل چاپېريال دی چې د پناه غوښتلو لپاره يې د تاسو پر وړتيا مادي اغېز کړی او يا نامعمول چاپېريال دی چې مستقيماً په 1 کال کې د دوسيې په جوړولو کې ستاسو له ناکامۍ سره اړيکه لري. (C) برخه وګورئ. ستاسو د غوښتنليک په اړه اضافي معلومات، په V سېکشن کې دي. د لارښوونو 1 برخه د نورو توضيحاتو لپاره.)

تاسو بايد په خپل غوښتنليک کې خپله مېرمن او هغه اولادونه شامل کړئ چې واده يې نه وي کړی او 21 کاله عمر ولري، همداراز په امريکا کې فزيکي شتون ولري. تاسو بايد د خپلې مېرمنې او هر ماشوم اړين اسناد پوره کړئ لکه څنګه چې په دغو لارښوونو کې درنه غوښتل شوي دي. هغه اولادونه چې عمر يې 21 کاله يا له دې لوړ دی او واده يې کړی، بايد بېل غوښتنليک جوړ کړي. که تاسو پناه اخيستې او مېرمن او/يا کوم نا وده شوی اولاد مو چې عمر يې له 21 کالو ټيټ وي، له امريکا بهر دي، کولی شئ د کډوالو/پناه غوښتونکو د خپلوانو د عريضې I-730 فورم برابر کړئ چې همدغه ګټې ترلاسه کړي.

### د لارښوونې سېکشنونه: د دوسيه کولو معلومات او دا چې غوښتنليک مو څنګه پروسس کېږي.

لارښوونې په دوو سېکشنونو وېشل شوې: په لومړي سېکشن کې د فايل کولو معلومات راغلي. دغه سېکشن د وړتيا اساسي ځانګړنې تشريح کوي او تاسو ته لارښوونه کوي څنګه مو غوښتنليک ډک او دوسيه کړئ. دوهم سېکشن دا تشريح کوي چې غوښتنليک به څنګه پروسس شي. دغه سېکشن همداراز د غوښتنليک د پروسس کېدو په وخت کې لنډمهاله بالقوه ګټې تشريح کوي.دغه لارښوونې په غور ولولئ. دغه لارښوونې به له تاسو سره مرسته وکړي چې خپل غوښتنليک بشپړ کړئ او پوه شئ چې څنګه پروسس کېږي. که د خپلې وړتيا په اړه يا په دې اړه پوښتنې لرئ چې فورم څنګه بشپړ کړئ، يا د پناه اخيستو د پروسې په اړه، کولی شئ له وکيل يا بل مناسب کس سره مشوره وکړئ چې مرسته درسره وکړي. (IV سېکشن وګورئ، د مشورې حق، د دغو لارښوونو په I برخه کې.)

This is an unofficial translation of I-589 instructions to Pashto provided by the American Immigration Lawyers Association for reference purposes only.

## لړلیک


| | |
|---|---|
| **1 برخه. د دوسیه کولو لاربښوونې** | **2** |
| I. ځوک غوښتنه کولی شي او د دوسيې کولو وروستی وخت | 2 |
| II. د وړتیا اساسات | 2 |
| **A**. پناه غوښتل | 2 |
| **B**. له ایستل کېدو ژغورل | 3 |
| **C**. د شکنجې پر وړاندې کنوانسیون له مخې د ایستل کېدو ځنډول | 3 |
| **D**. د وړتیا په اړه قانوني منابع او لاربښووني | 3 |
| III. راز ساتل | 4 |
| IV. د مشورې حق | 4 |
| IV. د فورم ترلاسه کول او بشپړول | 4 |
| **I.A** برخه، ستاسو په اړه معلومات | 4 |
| **A.II**.برخه مېرمن او ماشومان | 4 |
| **A.III** برخه. ستاسو د بګرونډ په اړه معلومات | 5 |
| **B** برخه. ستاسو د غوښتنلیک په اړه معلومات | 5 |
| **C** برخه. ستاسو د غوښتنلیک په اړه اضافي معلومات | 5 |
| **D** برخه. د تاسو لاسلیک | 5 |
| **E** برخه. د هغه کس لاسلیک چې فورم یې برابر کړی، که له تاسو پرته بل ځوک وي | 6 |
| **F** برخه. چې د پناه غوښتلو په مرکه کې بشپړ وي، که د اجرا وړ وه | 6 |
| **G** برخه. چې د ایستلو په استماعیه کې بشپړ وي، که د اجرا وړ وه | 6 |
| VI. اړین اسناد او د کاپیو اړین شمېر چې تاسو یې باید له خپل غوښتنلیک سره تسلیم کړئ | 6 |
| VII. اضافي شواهد چې تاسو یې باید تسلیم کړئ | 6 |
| VIII. فیس | 7 |
| IX. بایومتریک، د فنګرپرېنټ او عکسونو په ګډون | 7 |
| X. ستاسو د غوښتنلیک تنظیمول | 7 |
| XI. د پناه غوښتلو نابشپړ غوښتنلیک | 7 |
| XII. چیرته دوسیه جوړه کړو؟ | 7 |
| که تاسو دلته اوسېږئ: | 8 |
| خپل غوښتنلیک دلته ولېږئ: | 8 |
| که تاسو دلته اوسېږئ: | 9 |
| خپل غوښتنلیک دلته ولېږئ: | 9 |
| **2 برخه. له دوسیه کولو وروسته اړتیاوو په اړه معلومات** | **9** |
| I. د ادرس بدلولو په صورت کې د خبر ورکولو اړتیاوې | 9 |
| II. د پناه غوښتلو د مرکې پروسه | 9 |
| III. د هغه وخت حالت چې غوښتنلیک مو په جریان کې دی | 10 |
| **IV**. له امریکا بهر سفر کول | 10 |
| **V**. د کار اجازه هغه وخت چې د پناه غوښتلو غوښتنلیک مو په جریان کې دی | 10 |
| VI. د کار اجازه هغه وخت چې د پناه غوښتلو غوښتنلیک مو ومنل شي | 10 |
| **د DHS حریم یادښتونه** | **10** |
| **د USCIS فورمونه او معلومات** | **10** |
| **جریمې** | 11 |
| **د کاغذ بازیو د کمولو قانون** | 11 |
| **د I-589 فورم ضمیمې** | 11 |


## 1 برخه. د دوسیه دکولو لاربښووني

### I. ځوک غوښتنه کولی شي او د دوسيې کولو وروستی وخت

تاسو کولی شئ د خپلې کډوالۍ وضعیت ته له پام پرته د پناه غوښتنه وکړئ، ان که تاسو په ناقانوني توګه په امریکا کې وئ، مګر دا چې قانون او مقرراتو بل څه ویلي وي.

**تاسو باید امریکا ته له راتګ وروسته په 1 کال کې دغه غوښتنلیک جوړ کړئ. که په 1 کال کې دا کار ونه شئ کړی، ستاسو غوښتنلیک کېدای شي رد شي؛ مګر دا چې وښیئ چې دلته بدل شرایط دی چې د پناه غوښتلو لپاره یې ستاسو پر وړتیا مادي اغېز کړی او یا نامعمول څه شته چې د دې لامل شوي چې تاسو په 1 کال کې دا کار ونه شئ کړی. امریکا ته له رسېدو وروسته په 1 کال کې د I-589 فورم په ډکولو کې ستاسو ناکامي ښایي د دې سبب شي چې تاسو د کار اجازه ترلاسه نه کړئ یا مو د کار او ګومارنې د اجازې غوښتنلیک رد شي.**

له همراه پرته بېګانه ماشوم (UAC) یوه قانوني اصطلاح ده چې هغه د امریکا تابعیت نه لرونکي ماشوم ته ویل کېږي چې په امریکا کې د کډوالۍ قانوني حالت نه لرئ؛ 18 کلونو ته نه وي رسېدلی؛ په امریکا کې والدین او قانوني ساتونکی نه لري، او په امریکا کې د ده لپاره هېڅ والدین او قانوني ساتونکی د لاسرسي وړ نه وي چې پام ورته وکړي او ویې ساتي. U.S.C6. 279 (g)(2) وګورئ. د پناه غوښتلو برخه د پناه غوښتلو د غوښتنلیک په اړه چې UAC ډک کړی، یوه اصلي قضایي حوزه لري، د کډوالۍ له قاضي مخکې د ایستلو د اقداماتو د UAC په ګډون. د UAC لپاره د پناه غوښتلو د پروسې په اړه د نورو معلوماتو لپاره لاندې د USCIS د پناه غوښتلو وېبپاڼه وګورئ. www.uscis.gov/humanitarian/refugees-asylum/asylum/minor-children-applying-asylum-themselves.

د UAC دوسیې لاربښوونې به جزیاتو سره په 1 برخه کې شته.د دغو لاربښوونو XIIسېکشن.

که ستاسو پناه غوښتل پخوا د کډوالۍ د قاضي یا د کډوالۍ د غوښتنې د بورډ له لوري رد شوي، تاسو باید وښئ چې دلته بدل شرایط دي چې ستاسو د پناه غوښتلو پر وړتیا یې اغېز کړی.

دا پرېکړه چې ایا تاسو د پناه غوښتلو اجازه لرئ که نه، هغه وخت کېږي چې کله تاسو د پناه اخیستو له یوه افسر سره مرکه وکړئ یا د کډوالۍ د قاضي په مخ کې خبرې وکړئ. ان که تاسو په پورتنیو دلایلو د پناه غوښتلو وړ نه وئ، بیا هم د INA د 241(b)(3) سېکشن له مخې یا د شکنجې پر وړاندې کنوانسیون له مخې د کډوالو محکمې ته له ایستلو د ژغورنې لپاره غوښتنه کولی شئ.

د 48 U.S.C 1806(a)(7) له مخې، که تاسو په فزیکي بڼه حاضر وئ، یا د شمالي ماریانا جزیرو کامن وېلت ته رارسېږئ، تاسو نه شئ کولی د 2030 کال د جنورۍ تر لومړۍ نېټې د پناه غوښتنه وکړئ؛ که څه هم تاسو کولی شئ له I-589 فورم څخه چې د پناه لپاره غوښتنلیک او له ایستلو ژغورل دي، استفاده وکړئ چې د شکنجې پر وړاندې کنوانسیون او د کډوالو محکمې د اقداماتو له مخې له ایستلو وژغورل شئ او خوندي وئ.

### II. د وړتیا اساسات

#### A. پناه غوښتل

د دې لپاره چې د پناه غوښتلو وړ شئ، باید دا تصدیق کړئ چې تاسو داسې کډوال یئ

موخه يې هم دا وي چې درد او عذاب ورکړي.

شکنجه يو داسې عمل دی چې د دې موخې لپاره کېږي چې له قرباني يا دريم کس څخه معلومات يا اعتراف واخلي، قرباني د هغه عمل لپاره شکنجه کوي چې ده يا دې او يا دريم کس کړی يا يې د کولو شک ورباندې دی، قرباني يا دريم کس وېروي او ځوروي، دا کار د هر دليل لپاره او په هره بڼه کوي.

شکنجه بايد د يوه عمومي چارواکي يا بل کس چې صلاحيت لري، په واسطه يا اجازه او يا د دوی په خوښه او رضايت سره وشي. قرباني بايد په توقيف يا د شکنجه کوونکي په فزيکي کنټرول کې وي. په شکنجه کې هغه درد او عذاب نه شاملېږي چې يوازې د قانوني حکم له مخې ذاتي وي، سربېره پر دې هم دا ډول اعمال د شکنجې پر وړاندې کنوانسيون موخه او هدف نه شي لرې کولی.

I-589 فورم د دې لپاره کارېږي چې د شکنجې پر وړاندې کنوانسيون له مخې له ايستل کېدو د ژغورنې لپاره غوښتنه وشي، که چېرې تاسو د کډوالۍ قاضي ته ووايئ چې تاسو د شکنجې پر وړاندې کنوانسيون له مخې له ايستلو د ژغورنې وړ وګڼل شئ، يا دا چې ستاسو وړاندې شوي شواهد ښيي چې تاسو په هغه هېواد کې چې ترې ايستل کېږئ، شکنجه کېږئ.

د دې لپاره چې د شکنجې پر وړاندې کنوانسيون له مخې له ايستلو د ژغورنې لپاره غوښتنه وکړئ، تاسو بايد د غوښتنليک **د 1 پاڼې** په سر کې باکس چک کړئ او I-589 فورم بشپړ ډک کړئ.

تاسو بايد د غوښتنليک د **B برخې. 4 پوښتنې**ته په ځواب کې په جزياتو واضح کړئ چې ولې له شکنجې وېرېږئ. په ځواب کې بايد د هر ډول ناسم چلند په اړه ووايئ چې تاسو تجربه کړی يا هر ګواښ چې د دولت يا د دولت اړوند کوم کس له لوري درته شوی.

يوازې د کډوالۍ قاضي او د کډوالۍ د غوښتنې بورډ کولی شي د شکنجې پر وړاندې کنوانسيون له مخې له ايستلو د ژغورنې امر وکړي يا يې د ايستلو. که تاسو د پناه غوښتلو غوښتنه کړې، د کډوالۍ قاضي به دا مشخصه کړي چې ايا تاسو د INAد 208 سېکشن له مخې د پناه غوښتلو او د INAد 241(b)(3) سېکشن له مخې له ايستل کېدو د ژغورنې وړ يئ که نه. که تاسو د INAد 208 سېکشن له مخې د پناه غوښتلو او د INAد 241(b)(3) له مخې له ايستلو کېدو د ژغورنې وړ نه وئ، د کډوالۍ قاضي به مشخصه کړي چې د شکنجې پر وړاندې کنوانسيون بېرته هغه هېواد ته چې د شکنجې وېره پکې ده، ستاسو لېږل منع کوي که نه.

لکه څنګه چې د امريکا په قانون کې پلي شوي، د شکنجې پر وړاندې کنوانسيون 3 ماده امريکا له دې منع کوي چې تاسو بېرته هغه هېواد ته ولېږي چې ستاسو د شکنجې امکان پکې شته. که څه هم، د شکنجې پر وړاندې کنوانسيون
له دې منع نه کوي چې امريکا تاسو بل هېواد ته ولېږي چې هلته د شکنجې ګواښ نه وي.دا په دې معنی ده چې تاسو ښايي يوه دريم هېواد ته ولېږل شئ چېرته چې تاسو نه شکنجه کېږئ. د شکنجې پر وړاندې کنوانسيون له مخې له ايستل کېدو ژغورل دا حق هم نه درکوي چې د تل لپاره د قانوني پاتې کېدو غوښتنه وکړئ، يا د کورنۍ غړي راولئ چې امريکا ته راشي او پاتې شي.

## C. د شکنجې پر وړاندې کنوانسيون له مخې د ايستل کېدو ځنډول

که د دې احتمال وي چې په يوه هېواد کې شکنجه کېږئ او د دې وړ هم نه وئ چې له ايستل کېدو وژغورل شئ، نو ايستل کېدل مو د 8 CFRد 208.17(a) او 1208.17(a) شپکشنونو لاندې ځنډول کېږي. د ايستل کېدو ځنډول په امريکا کې په قانوني توګه د کډوالۍ حق نه درکوي او نه يې هم حتمي پايله دا ده چې له توقيف خلاص شئ. د ايستلو ځنډول يوازې تر هغه وخته ګټور دي چې څو پای ته رسېږي. د ايستلو ځنډول کتل کېږي او هغه وخت پای ته رسېږي چې تاسو ته نور په هېواد کې د شکنجې د ګواښ احتمال نه وي او يا دا چې تاسو غوښتنه وکړئ چې دا ځنډول پای ته ورسېږي.

## D. د ورتيا په اړه قانوني منابع او لارښووني

لاندې لېست شوي اسناد د پناه غوښتلو اړوند ځينې قانوني منابع او لارښووني دي، د INAد 241(b)(3) سېکشن مطابق له ايستلو ژغورل کېدل او د شکنجې پر وړاندې کنوانسيون له مخې له شکنجې ژغورل کېدل او د ايستلو ځنډول. دغه منابع يوازې د ماخذ لپاره وړاندې شوي. اړتيا نشته چې دغو ته د غوښتنليک د بشپړولو په موخه مراجعه وکړئ.

چې نه شئ کولی يا نه غواړئ خپل هېواد او مليت ته د شکنجې يا د نژاد، دين، مليت، يوې ځانګړې ټولنيزې ډلې د غړيتوب يا سياسي مفکورې په سبب د شکنجې له جدي وېرې بېرته لاړ شئ، يا که مليت نه لرئ هغه د اوسېدو ځای ته چې تل پکې وئ. دا په دې معنی ده چې تاسو بايد دغه نژاد، دين، مليت، د ځانګړې ټولنيزې ډلې غړيتوب يا سياسي مفکوره ثابته کړئ چې لرله مو او يا لږ تر لږه لرئ به يې.
يو مهم دليل د تاسو د شکنجې لپاره يا دا چې ولې وېرېږئ.
شکنجه. (د INA اړوند 208 سېکشن؛ د 8CFR دغه 208 او 1208، et seq سېکشن وګورئ.)

که ستاسو پناه غوښتنه تضمين شوې، يا وړ ښځه يا ماشوم چې په غوښتنليک کې شته، کولی شي په امريکا کې کار وکړي او پاتې شي او بالاخره د قانوني دايمي اوسېدو حالت ته ځان سم کړي. **که مو پناه غوښتل نه وي تضمين شوي، د کورنۍ امنيت وزارت (DHS) ستاسو په غوښتنليک کې وړاندې شوي معلومات د دې لپاره کارولی شي چې دا تصديق کړي چې تاسو له امريکا څخه د ايستل کېدو وړ يئ.**

## B. له ايستل کېدو ژغورل

دغه غوښتنليک همدارا ز د دې لپاره کارېږي چې د شکنجې پر وړاندې کنوانسيون د INA د 241(b)(3) سېکشن لاندې د ځان ساتنې لپاره غوښتنه وکړئ، دا برخه اصلاح شوې. دا همدارا ز د شکنجې پر وړاندې کنوانسيون له مخې له ايستل د ژغورل کېدو د غوښتنليک په توګه کارېږي، که تاسو د دغه فورم د 1 پاڼې په سر کې هغه باکس چک کړی وي، او که ستاسو وړاندې شوي شواهد ښيي چې په هغه هېواد کې چې ترې ايستل شوي يئ، شکنجه کېږئ. ( د 8CFR دغه 208.13 (c)(1) او 1208.13(c)(1) سېکشن وګورئ.) که پناه غوښتل نه وي تضمين شوي، تاسو بيا هم له ايستل کېدو د ژغورنې لپاره وړ يئ.B. له ايستل کېدو ژغورنه د ژغورنې د غوښتنليک اساساتو ته له پام پرته، که تاسو لاندې کارونه کړي وي، د ژغورنې وړ نه يئ:

**1.** د نازيانو په شکنجو کې همکاري او په عاموژنه کې ګډون;
**2.** بل کس مو شکنجه کړی وي;
**3.** که د محکمې له لوري په ځانګړي ډول په جدي جرمونو مجرم پېژندل شوي وئ، چې شديد ځنځيري جرمونه پکې شاملېږي، په دې توګه تاسو د امريکا د ټولنې لپاره ګواښ ګڼل کېږئ;
**4.** له امريکا بهر مو په مختلفو دليلونو غير سياسي جدي جرم کړی وي; يا
**5.** چې د امريکا امنيت ته کوم ګواښ وړاندې کړئ. (د INA اړوند 241 (b)(3) سېکشن او د 8CFR دغه 208.16 او 1208.16 سېکشنونه وګورئ.)

**د INAد 241(b)(3) سېکشن لاندې له ايستل کېدو د ځان ژغورل**
ددې لپاره چې د INAد 241(b)(3) سېکشن لاندې له ايستل کېدو د ځان ژغورنې لپاره وړ شئ، تاسو بايد دا تصديق کړئ چې په هغه هېواد کې چې ترې ايستل شوي يئ د نژاد، دين، مليت، د يوې ځانګړې ټولنيزې ډلې غړيتوب يا سياسي مفکورې په سبب ستاسو ژوند او ازادۍ ته ګواښ دی.

که تاسو له ايستل کېدو د ژغورنې امرې ترلاسه کړئ، بېرته هغه هېواد ته نه لېږل کېږئ چې ژوند او ازادۍ ته مو پکې ګواښ دی. که څه هم کېدای شي يوه دريم هېواد ته ولېږل شئ چې هلته مو ژوند او ازادۍ ته ګواښ نه وي. له ايستلو ژغورل کېدل ستاسو په غوښتنليک کې شامل ښځه او خاوند يا ماشومان نه رانغاړي؛ دوی بايد د دغه خونديتوب لپاره پخپله غوښتنه وکړي.

که تاسو له ايستل کېدو وژغورل شئ، دا په دې معنی نه ده چې تاسو دا حق لرئ چې خپلوان مو امريکا ته راولئ. دا همدارا ز دا حق هم نه درکوي چې د تل لپاره په امريکا کې د قانوني پاتې کېدو غوښتنه وکړئ.
**د شکنجې پر وړاندې کنوانسيو له مخې له ايستل کېدو ژغورل کېدل**
د شکنجې پر وړاندې کنوانسيون د ملګرو ملتونو د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني، يا لوېدلي چلند او شکنجې پر وړاندې کنوانسيون ته اشاره کوي.

ددې لپاره چې د شکنجې پر وړاندې کنوانسيون د 3 مادې له مخې لکه څنګه چې د امريکا په قانون کې پلې کېږيو له ايستل کېدو وژغورل شئ، تاسو بايد وښيئ چې دا احتمال شته چې تاسو به په هغه هېواد کې شکنجه شئ.

"شکنجه" د 8CFR په 208.18(a) او 1208.18(a) سېکشنونو کې تعريف شوې ده، چې د شکنجې پر وړاندې کنوانسيون د 1 مادې تعريف رانغاړي، لکه څنګه چې د امريکا په قانون کې پلې شوی. دا چې يو عمل شکنجه وګڼل شي، بايد د ظلم نا انساني چلند افراطي بڼه وي، ډېر فزيکي او رواني درد او عذاب ولري او مشخصه

تاسو باید ټول ځوابونه په I-589 فورم کې په تور رنګ ټایپ او چاپ کړئ.ځوابونه مو باید په انګلیسي ژبه بشپړ شوي وي. کوم فورمونه چې له انګلیسي پرته په بله ژبه ډک شوي وي، بېرته به لېږل کېږي. تاسو باید د ځان او کورنۍ په اړه ټول غوښتل شوي معلومات وړاندې کړئ او ټولو پوښتنو ته ځواب ووایئ.

که کومه پوښتنه له تاسو سره صدق ونه کړي او یا په غوښتل شوو معلوماتو پوه نه شئ، داسې ځواب ورکړئ "هیڅ،" "د اجرا وړ نه دي،" یا "ناپیژندل شوي".

باید معلومات په جزیاتو ورکړئ او پوښتنو ته د امکان تر کچې بشپړ ځواب ورکړئ. که مو په غوښتنلیک کې کوم معلومات کم وو، ښایي بېرته یې ولېږو چې بشپړ نه دی. که نور ځای ته اړتیا لرئ،له I-589 فایل سره A او B ضمیمې یو ځای کړئ (د غوښتنلیک په پکېج کې شته) او/یا اضافه پاڼه(پاڼې) چې د هغه سوال شمېره ورسره لیکل شوې وي چې تاسو یې ځوابوئ.

له تاسو څخه جدي غوښتنه کېږي چې د ادعا لپاره مو اضافه لیکلی بیان او حمایوي اسناد یو ځای کړئ. ستاسو په لیکي بیان کې باید پېښې، نېټې او پناه غوښتنې په ادعا پورې تړلو تجربو جزیات شامل وي.

خپل د راجستر بېګانه شمېره (A-شمېره)(که کومه یوه وي)، نوم(کټ مټ لکه د فورم په **Part .A.I** کې چې ښودل کېږي)، لاسلیک، او د هرې ضمیمه پاڼې نېټه او د حمایوي اسنادو پوښ پاڼه راوړئ.

تاسو باید د پناه غوښتنې د ادعا په اړه د اضافي معلوماتو او تشریحاتو په راوړلو سره خپل غوښتنلیک د پناه غوښتلو له مرکې مخکې یا پر وخت او د کډوالۍ محکمې ته له خبرو مخکې د پناه غوښتلو له یوه افسر سره اصلاح او ضمیمه کړئ. د پناه غوښتنو له هغه غوښتنلیک سره چې له USCIS سره دوسیه شوی، له مرکې مخکې لږ تر لږه په 14 ورځو کې د پناه غوښتنې له افسر سره هر راز مستند شواهد پکې ثبت کړئ. د اضافي شواهدو د ثبتولو لپاره ښایي USCIS د احتیاط پر اساس وخت تمدید کړي. له دغه ډول تمدید سره ستاسو د پناه غوښتنې په غوښتنلیک کې د غوښتنه کوونکي له لوري د ځنډ چلند کېږي. د غوښتنه کوونکي له لوري هر راز ځنډ ښایي د ګومارنې د اجازې لپاره ستاسو د غوښتنې د رد سبب شي، که چېرې دغه د ځنډ ستونزه ستاسو د ګومارنې د دوسیې تر وخته نه وي حل شوې. د 8 CFRدا 208.7 سپکشنونه *وګورئ* .

### I.A. برخه، ستاسو په اړه معلومات

دغه برخه ستاسو په اړه اساسي معلومات غواړي. د راجستر بېګانه شمېره (A-شمېره) ستاسو د USCIS د دوسیې شمېره ښیي. که تاسو تر اوسه کومه A-شمېره نه لرئ، USCIS به یوه درته ثبت کړي.

تاسو باید لاندې د هغې کوڅې پته وړاندې کړئ چې په امریکا کې پکې اوسېږئ (هغه ادرس چې تاسو په فزیکي ښه هلته اوسېږئ) **A.I برخه. 8پوښتنه**, د پناه غوښتلو د غوښتنلیک. تاسو باید د لېږلو یو ادرس وړاندې کړئ، که مو د اوسېدو له ادرس سره توپیر لري، دلته **9 پوښتنه**. که کوم بل څوک ستاسو لپاره ستاسو په ادرس پیغامونه اخلي، د هغه کس نوم د 9 پوښتنې په "په واسطه د" ساحه کې ذکر کړئ. که مو د لېږلو ادرس پوسته خانه ده، ادرس یې دلته ولیکئ **9 پوښتنه** او د فزیکي اوسېدو ادرس مو هم دلته ولیکئ **8 پوښتنه** .

**په13 پوښتنه کې** د هېواد اوسنی نوم ولیکئ. تاریخي، مذهبي، ولایتي او بل سیمه‌ایز نوم یې مه لیکئ.

که تاسو له ځارنې سره هېواد ته راننوتي یئ، د I-94 فورم شمېره دلته راوړئ**19b پوښتنه** دا شمېره پر I-94 فرم، د راتګ او پرېښودو ریکارډ، وي او هغه وخت درکول کېږي چې کله امریکا ته را ننوځئ. په **19c پوښتنه**, کې نېټه او حالت ذکر کړئ چې پر I-19 فورم شته. که مو I-94 فورم نه وي تر لاسه کړی، ولیکئ "هیڅ". که د کډوالۍ د کوم افسر له ګروېږنو پرته داخل شوي یئ، ولیکئ "پرته له ګروېږنو" په **19c پوښتنه** کې، په اوسني حالت یا د حالت په سپکشن کې.

### A.II.برخه مېرمن او ماشومان

تاسو باید په غوښتنلیک کې خپله مېرمن او ټول ماشومان، د ناسکه، هغه چې په زوبولی مو نیولي او هغه چې سن یې لوړ، پرته له دې چې عمر، مدني حالت ته یې وګورئ، ذکر کړئ. که په امریکا کې وي او که نه، که په دغه غوښتنلیک کې شامل دي که نه او که د ځان لپاره د پناه غوښتلو بېل غوښتنلیک هم جوړوي.

پر دې سربېره د پناه غوښتلو په غوښتنلیک کې خپله مېرمن او هغه ماشومان چې

1. د INAدا 101(a)(24) سپکشن، 8 U.S.C 1101(a)(24) ("کډوال"تعریفوي)؛
2. د INAدا 208 سپکشن او8 U.S.C. 1158(د پناه غوښتلو د مستحقوالي یا وړتیا لپاره)؛
3. د INAدا 101(b)(3)سپکشن، 8 U.S.C 1231(b)(3)له ایستل کېدو د ژغورل کېدو د مستحقوالي په اړه)؛
4. د CFRد 103.2,208 او1208 سپکشنونو 8 عنوان، et qes.
5. د شکنجې پر وړاندې کنوانسیون 3 ماده او نور ظلم، نا انساني او لوېدلی چلند او مجازات لکه د 1998 کال د بهرنو چارو د اصلاح او بیا جوړونې قانون د 2242(b) سپکشن او د 8 CFRد 208 سپکشن له لوري چې پلي شوي، لکه د شکنجې پر وړاندې کنوانسین په اړه د مقرراتو له لوري اصلاح شوی: موقتي قانون، FR 8478-849264 (د فبرورۍ 19, 1999) (د اجرا وړ، مارچ 22, 1999)؛ 64 FR 13881 (مارچ 22, 1999)؛
6. د کډوالو د وضعیت په اړه د ملګرو ملتونو د 1967 پروتوکول؛
7. د کډوالو د وضعیت په اړه د 1951 کنوانسیون؛ او
8. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د لوی کمېشنر اداره، د کډوالو د وضعیت د مشخصولو د ځانګړنو او پروسیجر رساله (جینیوا، 1992).

### III. راز ساتل

ټول شوي معلومات د دې لپاره کارېږي چې ستاسو د غوښتنلیک په اړه پرېکړه وشي. همدارز ښایي د بل دولت ادارو (ایالتي، دولتي، محلي، او/یا بهرنیو) ته د جنایي او/یا مدني موضوعاتو په اړه د څېړنو او قانوني اقداماتو په موخه ورکړل شي او د هغو موضوعاتو لپاره چې د ګټو له قانوني کولو راپورته کېږي. که څه هم، هېڅ راز معلومات چې وښیي چې تاسو د پناه غوښتنه کړې هغه هېواد یا دولت ته نه ورکوي کېږي چې تاسو د نیول کېدو وېره ترې لرئ. د 8 CFRد 208.6 او 1208.6 سپکشنونو مقررات د پناه غوښتلو محرمیت ساتي.

### IV. د مشورې حق

د کډوالۍ د قانون د پناه غوښتلو، د ایستلو د مخنیوي او د ایستلو د ځنډولو برخې پېچلې دي. تاسو دا حق لرئ چې د پناه غوښتلو په مرکه او کډوالۍ پراوونو پر مهال د کډوالۍ محکمې ته خپل قانوني استازی وړاندې کړئ او وېې لرئ، د امریکا دولت ته له کوم لګښت پرته.

که تاسو اړتیا لرئ یا د دغه فورم په ډکولو او خپل لیکلي بیان په برابرولو کې مرسته غواړئ، وړیا وکیل او/یا رضاکاري اداري د لاسرسي وړ دي. رضاکاري اداري ښایي له تاسو سره له کوم فیس پرته یا په کم فیس مرسته وکړي، او کوم وکیلان چې په لاندې لېست کې ښودل شوي، ستاسو قضیه له کوم فیس پرته اخلي. که تاسو تر اوسه له USCIS او کډوالو محکمې څخه د وکیلانو او معتبرو استازو لېست نه وي ترلاسه کړی، کولی شئ له دغې شمېر سره په اړیکه کې شئ او ترلاسه یې کړئ 1-800-870-6763 یا د امریکا د عدلیې وزارت(DOJ)، د کډوالۍ د کتنې لپاره اجرایي اداري (EOIR) وېبسایټ ته ورشئ www.justice.gov/eoir/list-pro-bono-legal-service-providers-map.

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د لوېي کمېشنرۍ (UNHCR) استازي یا وکیلان له تاسو سره د هغو کسانو په پېژندلو کې همکاري کوي چې د غوښتنلیک په ډکولو کې مرسته درسره وکړي. Ref World، یوه د ډېټابېس منبع ده چې د UNHCR پر وېبپاڼه او دلته یې پیدا کولی شئ. www.refworld.orgدا له بېلابېلو سرچینو څخه د هېواد کټور شرایط وړاندې کوي. له UNHCR سره د اړیکې معلومات دا دي:

**د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو لویه کمېشنري 1800 ماسوچیسټ سرک NW، اپارتمان 500**
**واشنګټن ډي سي 20036**
**ټلیفون: 202-296-5191**
**ایمیل: usawa@unhcr.org**
**وېبپاڼه: www.unhcr.org**

### IV. د فورم ترلاسه کول او بشپړول

USCIS په خپله وېبپاڼه کې له کوم لګښت پرته فورمونه ورکوي. د فورمونو د لیدلو، پرېنټ کولو او ډکولو لپاره باید د اداب ریډر وروستی ورژن وکاروئ، له دغه ځایه یې ډاونلوډ کولی شئ http://get.adobe.com/reader/. د USCIS د اړیکو مرکز په انګلیسي او هسپانوي ژبو معلومات ورکوي. د تلګراف لپاره په دغه شمېره اړیکه ونیسئ: 1-800-767-1833.

پوښتنو لپاره، په ورکړل شوي باکس کې "هو"یا"نه" ولیکئ.

که مو پوښتني ته ځواب "هو" وي، د I-589 فورم له B ضمیمي یا که اړتیا وه له اضافي پاڼو څخه په استفادې جزیات ورکړئ.

تاسو باید په ښکاره هغه تجربي شریکي کړئ چې وښیي تاسو کډوال یئ، د کورنی د غړو یا نورو کسانو ورته تجربي هم که وي ویي لیکئ.

که مو تجربه دومره ترخه وي چې لیکل او ویل یې درته سخت وي، باید پوه شئ چې دا تجربي ښایي په امریکا کې د پاتې کېدو لپاره ستاسو د غوښتني په اړه د پرېکړې کولو په پروسه کې ډېرې مهمې وي.  د پناه غوښتلو له افسر سره ستاسو د مرکې یا د کډوالی قاضي ته د خبرو اورولو پر وخت، باید تیار وئ چې هغه سختۍ ووایئ چې تاسو تېرې کړي دي.  که تېرې پېښې نه شئ رایادولی یا یې ویل درته سخت وي، دا وړاندیز درته کوو چې له یوه وکیل، معتبر استازي یا روغتیایي کارپوه سره خبرې وکړئ، دوی ښایي له تاسو سره مرسته وکړي چې خپلې تجربي او اوسنی وضعیت تشریح کړئ.

**C برخه. ستاسو د غوښتنلیک په اړه اضافي معلومات**

هرې پوښتني ته په ورکړل شوي باکس کې "هو"یا"نه" ولیکئ. که مو پوښتني ته ځواب "هو" وي، د I-589 فورم له B ضمیمي یا که اړتیا وه له اضافي پاڼو څخه په استفادې جزیات ورکړئ.

که مو **5 پوښتنه** ته ځواب "هو" وي، باید دا واضح کړئ چې ولې مو امریکا ته له راتګ وروسته په لومړي کال کې د پناه غوښتنه نه کوله. دولت ښایي ستاسو په هېواد کې د شرایطو جدي بدلون په اړه تشریحات ومني، یا ستاسو د خپل وضعیت په اړه جدي بدلون او یا بله جدي پېښه چې پر وخت د غوښتني کولو لپاره یې ستاسو مخه نیولې.

د بېلګې په توګه، ځیني پېښې چې دولت یې د باوري تشریحاتو په توګه مني لاندي ذکر شوي، خو تر دې محدودې نه دي:

1. تاسو پوه شوي یئ چې ستاسو له راتګ وروسته مو په هېواد کې د بشر حقونو وضعیت ناوړه شوی؛
2. ستاسو د روغتیایي شرایطو په سبب بریالي نه شوئ چې له راتګ وروسته په 1 کال کې دا غوښتنلیک تسلیم کړئ؛
3. پخوا مو غوښتنلیک تسلیم کړئ، خو دا چې بشپړ نه و، بېرته درته لېږل شوی او تاسو یو بشپړ غوښتنلیک د منلو وړ وخت کې تسلیم کړی.

ایالتي مقررات ځیني نورې پېښي مشخصوي چې ښایي یوه باوري توضیح شي چې ولې مو غوښتنلیک پر وخت نه دی ډک کړی. دغه مقررات د 8 CFRپه 208.4 او 1208.4 سېکشنونو کې پیدا کېږي. د مقرراتو لېست بېخي بشپړ نه دی او دولت ډېر نور شرایط هم پېژني چې ښایي د دې لپاره د دلیل په توګه ومنل شي چې ولې مو له راتګ وروسته په 1 کال کې غوښتنه ونه کړه.

که نه شئ کولی دا توضیح کړئ چې ولې مو امریکا ته د راتګ په لومړي کال د پناه غوښتنه ونه کړه او یا دا چې توضیح مو دولت ته د منلو نه ده، نو د پناه د غوښتلو مستحق نه یئ، خو بیا هم کولی شئ د INA د 241(b)(3)سېکشن له مخې له ایستلو د ژغورني او یا د شکنجي پر وړاندې کنوانسیون له مخې له ایستلو د خوندیتوب لپاره وړ وئ.

**D برخه. د تاسو لاسلیک**

تاسو باید خپل غوښتنلیک په D برخه کې لاسلیک وکړئ او هغه پوښتني ځواب کړئ چې د غوښتنلیک د ډکولو په برخه کې له تاسو سره د مرستي په اړه دي، کوم معلومات چې غوښتل شوي، وړاندې یې کړئ. د غوښتنلیک له بشپړولو او کتلو وروسته لاسلیک وکړئ.

**که دا مشخصه شي چې تاسو قصداً د پناه اخیستو لپاره یو بې معنی غوښتنلیک برابر کړئ، د تل لپاره به د INA له هر راز ګټو بې برخې شئ.** (د NIAاړوند 208(d)(6) سېکشن وګورئ.)

د 8CFR د 208.20 او 1208.20 سېکشنونو د مقرراتو له مخې، هغه غوښتنلیک بې معنی دی چې یو عنصر یې قصداً جعلي جوړ شوی وي. (که کومه پوښتنه لرئ، د دغو لارښوونو **IV سېکشن، د مشورې حق، په 1 برخه کې** وګورئ.) تاسو ښایي په اساني له ناسومعلوماتو ډېره ونه کړئ، ځکه ممکن چا درته ویلي وي چې د پناه

عمر یې له 21 کالو ټیټ دی او واده یې نه وي کړی ذکر کړئ، که چېرې دوی په امریکا کې وي. هغه اولادونه مو چې واده یې کړی او/یا یې عمر 21 کاله یا له دې لوړ دی باید د ځان لپاره بېل I-589 فورم ډک کړي. په غوښتنلیک کې د مېرمني او ماشومانو شاملول په دې معنی دي که چېرې ستاسو پناه غوښتنه د USCIS یا EORI له لوري ومنل شي، د دوی هم منل کېږي.

له بل لوري، که ستاسو پناه غوښتل ونه منل شي، ستاسو د مېرمني او ماشومانو به هم ونه منل شي.

که تاسو د کډوالی له محکمې مخکې د پروسس پر مهال د پناه غوښتنه وکړئ، د کډوالی قاضي دا واک نه لري چې مېرمني او هغو ماشومانو ته مو پناه ورکړي چې ستاسو په غوښتنلیک کې شامل دي خو په پروسس کې نه دي.

د پناه غوښتلو په غوښتنلیک کې د کورنۍ د غړو د شاملولو پر وخت، تاسو باید تاسو باید د پناه غوښتلو د غوښتنلیک یوه اضافي کاپي هم تسلیم کړئ ورسره د دغو شواهدو اسناد چې د کورنی له هر غړي سره ستاسو اړیکه تصدیقوي، لکه څنګه چې لاندي تشریح شوي:

1. که تاسو په خپل غوښتنلیک کې خپله مېرمن شاملوئ، د نکاح خط درې کاپي او د هر هغه ثبوت درې کاپي تسلیم کړئ چې د کوم مخکیني واده ختمېدل ثابت کړي.
2. که تاسو په غوښتنلیک کې خپل له 21 کالو ټیټ کوم ماشوم شاملوئ، د هر ماشوم د زیږون د پاڼې درې کاپي تسلیم کړئ.

که تاسو دا اسناد نه لرئ یا یې نه شئ برابرولئ، باید دویمي شواهد تسلیم کړئ. په دویمي شواهدو کې طبي ثبوتونه، دیني ثبوتونه او د ښوونځي ثبوتونه شاملېږي خو تر دې پورې محدود نه دي. تاسو کولی شئ د هر څه د ثبوتولو لپاره چې غواړئ یې لږ تر لږه د یوه کس د شاهدي ورکولو فورم تسلیم کړئ. شاهدي باید خپلوان یا نور څوک ورکړي. څوک چې شاهدي ورکوي، باید د امریکا تابعیت ولري او قانوني دایمي اوسېدونکی وي.

**شاهدي ورکوونکي باید:**

1. باید د پوښتني پېښې او حالتونه بشپړ تشریح کړي او دا واضح کړي چې څنګه دغه کس د دغې پېښې یا پېښو په اړه پوهه ترلاسه کړه.

2. قسم وکړي او د هغو کسانو لخوا تایید شي چې د پېښې پر وخت ژوندي وو او ترې خبر دي (د زیږون، واده یا نورو نېټه او ځای) چې غواړئ ثبوت یې کړئ؛ او

3. د شاهدي ورکوونکي پوره نوم، ادرس او د زیږېدو ځای او نېټه وښیئ او له شاهدي ورکوونکي سره ستاسو اړیکه واضح کړئ.

که دویمي شواهد یا شاهدي تسلیموئ، باید دا واضح کړئ چې ولې اولي شواهد (لکه نکاح خط او د زیږون کارت) نشته. کولی شئ دا دلیل چې ولې اولي شواهد نشته، په I-589 فورم، B ضمیمه یا اضافي پاڼو کې ووایئ. دا تشریحات له دویمي شواهدو او شاهدی سره یو ځای کړئ.

که مو ماشومان له څلورو زیات وي، د هر اضافي ماشوم لپاره د I-589 فورم A ضمیمه ډکه کړئ او اضافي پاڼې او اسناد ورسره کړئ چې هغه معلومات وښیي چې د I-589 فورم په **A.II برخه.** کې غوښتل شوي.

**A.III برخه. ستاسو د بکرونډ په اړه معلومات**

دغو **5-1 پوښتني** ته ځواب ورکړئ او هرې پوښتني چې څه غوښتي جزیات ورکړئ. د اوسېدو د ځایونو،زدهکړې او دندو په اړه د پوښتنو ځوابونو مو باید د وخت په ترتیب وي، د اوسېدو له اوسني ځای، زدهکړو او دندې یې پیل کړئ او همداسې شاته ځئ.

**B برخه. ستاسو د غوښتنلیک په اړه معلومات**

دغه برخه د تاسو د پناه غوښتلو د مستحقوالي، د قانون د 241 (b)(3) سېکشن له مخې له ایستلو څخه ژغورلو او د شکنجي پر وړاندې کنوانسیون له مخې له ایستلو څخه ژغورلو په اړه مشخصې پوښتني کوي. د 1 پوښتني لپاره، د هغه دلیل یا دلایلو په څنګ کې باکس یا باکسونه وګورئ چې تاسو ولې دا غوښتنلیک بشپړوئ. د ټولو

وي چې په خپل غوښتنلیک کې ناسم معلومات وړاندې کړئ.

## VI. اړین اسناد او د کاپیو اړین شمېر چې تاسو یې باید له خپل غوښتنلیک سره تسلیم کړئ

تاسو باید لاندې اسناد تسلیم کړئ چې له ایستل کېدو د ژغورل کېدو لپاره ثبت شئ:

1. **بشپړ، لاسلیک شوی او اصلي یوه کاپي غوښتنلیک، I-589 فورم**او د هرې ضمیمې پاڼې یا ضمیمه خبرو یوه اصلي کاپي. که تاسو غواړئ اضافي حمایوي مواد انتخاب کړئ، د دغو لارښوونو**VII سېکشن، اضافي شواهد چې باید تسلیم یې کړئ، په 1 برخه کې** وګورئ. تاسو **باید** د هر سند دوې کاپي راوړئ. تاسو باید د بشپړ غوښتنلیک یوه اضافي کاپي د ځان لپاره وساتئ.
2. **د تاسو د بشپړ شوي غوښتنلیک یوه اضافي کاپي، I-589 فورم**, د کورنۍ د هر لېست شوي غړي لپاره ضمیمه خبرې **برخه A.II. t**چې تاسو یې په خپل غوښتنلیک کې شاملوئ.
3. **د اولي او دویمي شواهدو دوې کاپي**د اړیکو، لکه ستاسو د ماشومانو زیږون یا ښوونځي ثبوتونه، نکاح خط او د واده د ختمېدو ثبوت، د کورنۍ د هر لېست شوي غړي لپاره په **برخه کې**A.II. tچې تاسو په خپل غوښتنلیک کې شامل کړي دي.
**نوټ:** که تاسو د چا شاهدي تسلیموئ، تاسو باید اصلي او یوه کاپي تسلیم کړئ. (د شاهدۍ د اړتیاوو لپاره د دغو لارښوونو **په 1برخه کې A.II برخه، V سېکشن**, وګورئ.)
4. **یو د پاسپورټ په سټایل عکس** د تاسو او د کورنۍ د هر لېسټ شوي غړي **A.II.** Partچې تاسو یې په خپل غوښتنلیک کې شاملوئ. عکسونه باید د غوښتنلیک له ډکولو تر 30 ورځو مخکې نه وي اخیستل شوي. له یوه پنسل ځخه په استفادې، د هر عکس پر شا د کس نوم او A-شمېره (که وي) ولیکئ.
5. **د ټولو پاسپورټونو او د سفر د نورو اسنادو دوې کاپي** (پوښ په پوښ) د تاسو په ملکیت کې او د امریکا د کډوالۍ د هر راز اسنادو دوې کاپي، لکه I-94 فورم، د راتلو او لېږل کېدو ثبوتونه، د تاسو او ستاسو په غوښتنلیک کې د هر شامل غړي لپاره، په هغه صورت کې که دا ډول اسناد لرئ. که مشخص غوښتنل شوی نه وي، اصلي پاسپورټ د سفر له نورو اسنادو سره مه تسلیموئ.
6. **که د پېژندګلوۍ نور اسناد لرئ** (مثلاً د زیږون کارت، د پوځ پېژند کارت یا تذکره، لیسنس او نور)، مونږ توصیه کوو چې تاسو له غوښتنلیک سره دوې کاپۍ تسلیم کړئ او مرکې ته اصلي اسناد راوړئ

**کاپي.** *له دغه غوښتنلیک سره دوسیه شوي اسناد باید کاپي وي.* که تاسو اصلي اسناد راولېږئ، USCIS او د کډوالۍ محکمه یې له ځان سره د ثبوتونو په توګه ساتي.
**ژباړې.** USCIS ته په تسلیم شویو اسنادو کې که په بهرنۍ ژبه کوم اسناد وي، باید بشپړه انګلیسي ژباړه یې هم ورسره وي، ژباړن هم باید دقیق او تکړه وي او دا تصدیق شوي وي چې ژباړن کولی شي له بهرنۍ ژبې ځخه انګلیسي ته ژباړه وکړي.

## VII. اضافي شواهد چې تاسو یې باید تسلیم کړئ

تاسو باید معقول د لاسرسي وړ حمایوي شواهد تسلیم کړئ چې دا وښیي چې **(1)** د هغه هېواد عمومي وضعیت چې تاسو تاسو پناه ترې غواړئ؛ او **(2)** مشخص واقعیتونه چې تاسو د خپلې ادعا د ملاتړ لپاره تکیه پرې کوئ.

که ستاسو د ادعا ملاتړي شواهد په معقوله بڼه د لاسرسي وړ نه وي او په دغه وخت کې داسې ملاتړ نه شئ وړاندې کولی، باید تشریح کړئ چې ولې، له I-589 فورم او B ضمیمې یا اضافي پاڼو کار واخلئ.

په ملاتړو یا حمایوي شواهدو کې د اخبار مقالې، د کارپوهانو او شاهدانو شاهدي، روغتیایي او/یا رواني ثبوتونه، د ډاکټر بیان، مهالنۍ، مجلې، کتابونه، عکسونه، رسمي اسناد او شخصي بیان یا په ژوندۍ بڼه د شاهد یا کارپوه شاهدي شاملېږي خو تر دې نه دي محدود.

که تاسو د هغې سختۍ په بیان کې ستونزه لرئ چې تاسو پخوا تېره کړې، کولی شئ د روغتیایي کارپوه رپوټ تسلیم کړئ چې دغه سختۍ پکې تشریح شوې وي.

اخیستو په غوښتنلیک کې ناسم معلومات وړاندې کړئ.

**E برخه. د هغه کس لاسلیک چې فورم یې برابر کړی، که له تاسو پرته بل ځوک وي**

هر ځوک، د کورنۍ له ضروري غړي پرته(ستاسو مېرمن، والدین یا اولادونه)، چې د تاسو د غوښتنلیک په برابرولو کې یې مرسته کړې، باید په E برخه کې لاسلیک وکړي او غوښتل شوي معلومات وړاندې کړي.

**د ژمنې ماتولو جریمه**

د ژمنې ماتولو د جریمې له مخې، په دغه غوښتنلیک کې ټولې خبرې او د پوښتنو ځوابونه باید کره او ریښتیا وي. د ژمنې ماتولو د جریمې له مخې، تاسو او بل هر ځوک، د کورنۍ له ضروري غړي پرته، چې د غوښتنلیک په برابرولو کې مرسته کوي، باید غوښتنلیک لاسلیک کړي. ستاسو لاسلیک د دې شاهدي ورکوي چې تاسو د غوښتنلیک له منځپانګې خبر یئ. هر ځوک چې د غوښتنلیک په برابرولو کې مرسته درسره کوي، د کورنۍ له ضروري غړو پرته، باید خپل نوم، ادرس او د ټلیفون شمېر له لاسلیک سره په **E برخه** کې په مشخص شوي ځای کې ذکر کړي.

د لاسلیک نه کولو په صورت کې غوښتنلیک بېرته تاسو ته د یوه نابشپړ غوښتنلیک په توګه لېږل کېږي.

که USCIS یا EOIRوروسته پوه شي چې د کورنۍ له ضروري غړو پرته بل چا له تاسو سره مرسته کړې او دغه کس **قصداً** غوښتنلیک نه دی لاسلیک کړی، دا ښایي ستاسو پر وړاندې د زیانمنوونکي پرېکړې سبب شي.

18 عنوان، د متحده ایالاتو کوډ (U.S.C، 1546)(a) سېکشن، په یوه برخه کې وایي:

> هر ځوک چې قصداً قسم مات کړي، یا لکه څنګه چې د 28 عنوان تر 1746 سېکشن لاندې اجزاء ورکړل شوي، قصداً د غوښتنلیک د مادي حقیقت په اړه دروغ د ریښتیا په بڼه راوړي، په دروغو شاهدي ورکړي یا د کډوالو قانون یا نورو ورته مقرراتو له مخې اړین اسناد په دروغو وړاندې کړي یا قصداً دا ډول غوښتنلیک، شاهدي یا نور اسناد وړاندې کړي چې دروغ پکې وي، باید د دغه عنوان مطابق جریمه شي یا 10 کاله بندي او یا دواړه.

که له دې جدي فکتورونه وي، د زنداني کېدو حد اکثر تر 25 کلونو رسېدی شي.

که تاسو قصداً په دغه غوښتنلیک کې ناسم معلومات وړاندې کړئ، تاسو یا د غوښتنلیک برابروونکی ښایي د U.S.C. د 18 عنوان له مخې په جنایي جریمه محکوم شئ او INAد 274C سېکشن له مخې په مدني جریمه، 8 U.S.C. 1324c (د 8 CFRدغه 270 او 1270 سېکشنونه وګورئ).

**F برخه. چې د پناه غوښتلو په مرکه کې بشپړ وي، که د اجرا وړ وه**

په **برخهF** کې تر هغه خپل غوښتنلیک مه لاسلیک کوئ چې ځو مو دا فورم نه وي دوسیه کړی. له تاسو څخه به ستاسو د ادعا په اړه د مرکې په پایله کې په دغه ځای کې د لاسلیک غوښتنه وشي.

**نوټ:** تاسو که څه هم باید لاسلیک کړئ **D برخه** د غوښتنلیک

**G برخه. چې د ایستلو په استماعیه کې بشپړ وي، که د اجرا وړ وه**

په **Gبرخه** کې د دغه فورم له دوسیه کولو مخکې لاسلیک مه کوئ. له تاسو څخه به د کډوالۍ د قاضي مخکې استماعیې پر وخت په دغه ځای کې د لاسلیک غوښتنه وشي.

**نوټ:** تاسو که څه هم باید لاسلیک کړئ **D برخه** د دغه غوښتنلیک

**تاسو ته بیا خبر درکول کېږي، که دا مشخصه شي چې تاسو قصداً د پناه اخیستو لپاره یو بې معنی غوښتنلیک برابر کړئ، د تل لپاره به د INA له هر راز ګټو بې برخې شئ.** (د INA اړوند (6)(d)208 سېکشن وګورئ.)

د 8CFR د 208.20 او 1208.20 سېکشنونو د مقرراتو له مخې، هغه غوښتنلیک بې معنی دی چې یو عنصر یې قصداً جعلي جوړ شوی وي. بیا هم دا یاد ساتئ، تاسو ښایي په اسانۍ له بې معنی معلوماتو ډېره ونه کړئ ځکه چې ښایي یو چا درته ویلي

معتبر استازي له لوري استازولي کېږي؛
2. د ټولو ضمیمه پاڼو او ضمیمه بیانونو اصلي بڼه چې له غوښتنلیک سره مو تسلیم کړي؛
3. د هر راز اضافي ملاتړو اسنادو یوه کاپي؛
4. د هغو شواهدو یوه کاپي چې له مېرمنې او هغو تر 21 کالو ټیټو نا واده شوو ماشومانو سره مو اړیکه ښیي چې تاسو په خپل غوښتنلیک کې شامل کړي، که کوم وي؛ او
5. له عکس پرته، د هغو مواردو یوه کاپي چې پورته ستاسو په اصلي پکېج کې لیست شول.

**که تاسو په خپل غوښتنلیک کې د کورنۍ غړي شامل کړي وي، د کورنۍ د هر غړي لپاره یو اضافي پکېج ورسره یو ځای کړئ.**

د کورنۍ د هر غړي پکېج په لاندې بڼه تنظیم کړئ:

1. د تاسو د بشپړ شوي او لاسلیک شوي I-589 فورم او ضمیمه پاڼو یوه کاپي چې له اصلي غوښتنلیک سره مو تسلیم کړې. په **A.II برخه** کې، د پاڼې په کونج کې د کورنۍ د هغه غړي د پاسپورټ په سټایل عکس سټېپلر کړئ چې شامل دی؛ او
2. که وي، د G-28 فورم یوه کاپي.

مثلاً، که تاسو خپله ښځه او دوه ماشومان شاملوئ، تاسو باید خپل اصلي پکېج تسلیم کړئ، ورسره یو بل ستاسو پکېج، یو مو د مېرمنې او یو یو مو د هر ماشوم لپاره چې ټول پینځه شي. ځان باوري کړئ چې هر یو یې مناسب اسناد لري.

نوټ: په هره اضافي پاڼه کې چې تسلیموئ یې، باید ستاسو نوم وي (لکه څنګه چې د فورم په **A,I برخه** کې ښودل کېږي)، A-شمېره (که وي)، لاسیک او نېټه.

## XI. د پناه غوښتلو نابشپړ غوښتنلیک

USCISبه مو د 8 CFRد 103 سېکشن له مخې د پناه غوښتنې د مناسب دوسیه شوي غوښتنلیک د ترلاسه کولو په صورت کې خبر کړي. که مو USCISغوښتنلیک رد کړي، موږ به مو غوښتنلیک بېرته د رد له یوه یادښت سره درته ولېږو او د رد دلیل به یې واضح کړو. تاسو کولی شئ چې د نیمګړتیاوو له پوره کولو وروسته یې بیا دوسیه کړئ. که تاسو خپل د پناه غوښتلو غوښتنلیک له USCISسره دوسیه کړی، کولی شئ د خپل غوښتنلیک وضعیت د USCISپر وېبپاڼه چک کړئ.

د USCISله لوري د یوه بشپړ غوښتنلیک دوسیه کول او منل تر 365 ورځو وخت نیسي، تاسو باید په دې وخت کې په تمه شئ او وروسته د کار د اجازې لپاره غوښتنه وکړئ. که مو غوښتنلیک بشپړ نه وي او بېرته ولېږل شي، دغه 365 ورځې تر هغه وخته دوام نه پیدا کوي چې څو مو غوښتنلیک بیا نه وي تسلیم کړی او USCIS نه وي منلی، یو مناسب ډک شوی غوښتنلیک. (د کار د جواز لپاره د مستحقوالي په اړه د لا ډېرو معلوماتو لپاره د دغو لارښوونو **V سېکشن، د کار جواز هغه وخت چې غوښتنلیک په تر کار لاندې وي، 2 برخه** وګورئ.)

## XII. چیرته دوسیه جوړه کړو؟

که څه هم USCISبه لیکلې بڼه ستاسو له لوري د غوښتنلیک اخیستل تاییدوي، تاسو بشپړ فومرمونه د دې لپاره چې له تاسو سره هم ثبت شي، د لېږلو په راجستر شوي ادرس ولېږئ.

*که ستاسو کار د کډوالو په محکمه کې روان وي، مګر دا چې تاسو له همراه پرته بېګانه ماشوم (UAC) په توګه دوسیه جوړوئ.*

که ستاسو کارونه اوس د کډوالۍ په محکمه کې په جریان کې دي (یعنې که تاسو له F-221 فورم څخه ګټه اخلئ، د استعمایي د یادښت او دلیل ښودلو لپاره؛ I-122 فورم، د کډوالۍ د قاضي په مخ کې د استعمایي لپاره د منلو خنډېلو په اړه د غوښتونکي لپاره یادښت؛I-862 فورم، د حاضرېدو په اړه یادښت؛ یا I-863 فورم، د کډوالۍ قاضي ته د راجع کېدو په اړه یادښت)، تاسو باید خپل I-589 فورم د کډوالۍ له محکمې سره دوسیه کړئ چې ستاسو پر قضیه قانوني څار ولري.

د استعمایي په ورځ د DHSلپاره مشوره به تاسو ته USCISته د بایومټریک او بیوګرافي په اړه معلوماتو ورکولو اړوند لارښوونې وکړي چې تاسو یې باید وڅارئ. دغه لارښوونې همدارز دلته لاسته راوړلی شئ **www.uscis.gov/laws/immigration-benefits-eoir-removal-proceedings**. لاندې پاراګراف هغه لارښوونې تشریح کوي چې تاسو یې باید وڅارئ.

## VIII. فیس

د غوښتنلیک د ډکولو لپاره کوم فیس نشته.

## IX. بایومټریک، د فنګرپرېنټ او عکسونو په ګډون

1. **د بایومټریک خدماتو لیدژمنه** د پناه غوښتونکې باید د ټولو مناسبو ثبوتونو هغو معلوماتو بایومټریک چک وکړي چې DHS، عدلیې وزارت او کورنیو چارو وزارت یې ساتي. له تاسو غوښتل کېږي چې د بایومټریک خدماتو لیدژمنې ته حاضر شئ چې بیاومټریک تسلیم کړئ (فنګرپرېنټ، عکسونه او/یا لاسلیک)، په دې توګه USCISکولی شي د تاسو پېژندګلوي تایید کړي او مخکې له دې چې ستاسو د غوښتنلیک په اړه کومه پرېکړه وشي، ستاسو د بګرونډ او امنیتي مسایلو چک وکړي، د جنایي ثبوتونو د تاریخچې په ګډون چې د داخلي څېړنو مرکز (FBI)یې ساتي.

تاسو او ستاسو مېرمن او ماشومانو ته لارښووني کېږي چې د اړتیا وړ کارونه څنګه وکړي. تاسو ته د غوښتنلیک د ملاتړ مرکز (ASC) موقعیت او وخت ویل کېږي چې لاړ شئ، فنګرپرېنټ شئ او عکسونه مو واخیستل شي.

2. **نیول کېدل او محکومیت** هغه بېګانه خلک چې په ځانګړې جدي جرم محکوم دي، د پناه غوښتلو وړ نه دي. د هغو محکومیتونو لپاره چې په اپریل 1,1997 یا له دې وروسته دوسیه شوي، که محکومیت د امریکا د ننه وي او که بهر. که تاسو په امریکا کې نیول شوي یئ، باید د نیول کېدو د ټولو راپورونو، د محکمې حالتونو، د محکومیت اسنادو او نورو اړوندو اسنادو تصدیق شوي کاپي تسلیم کړئ.

3. **ټاکل شوې لیدژمنې ته په حاضرېدو کې ناکامي.** له کوم دلیل پرته ټاکل شوې لیدژمنې یا د فنګرپرېنټ او عکسونو په ګډون بایومټریک وړاندې کولو یا مو د بیوګرافي اړوند نورو معلوماتو وړاندې کولو ته پر وخت د نه حاضرېدو په صورت کې ښایي ځنډ راشي او/یا د دې سبب شي چې د پناه غوښتلو افسر ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک پرېږدي یا یې د کډوالۍ قاضي ته راجع کړي. له کوم دلیل پرته یوې مرکې یا د بایومټریک خدماتو لیدژمنې ته نه حاضرېدل ښایي ځنډ راولي یا د دې سبب شي چې د ګومارنې یا کار د اجازې لپاره ستاسو غوښتنلیک رد شي، څکه چې د پناه غوښتلو لپاره غوښتنلیک مو ځنډېلی. که د کډوالۍ قاضي ته د حاضرېدو پر وخت له کوم قانع کوونکي دلیل پرته دا کار وشي، ښایي د دې سبب شي چې د پناه غوښتلو غوښتنلیک مو پرېښودل شي او د ګومارنې اجازه مو رد شي. (د 8CFR دغه 208.7(a)(1)(v)او 1003.47(d) سېکشن وګورئ).

کله چې خپل I-589 فورم دوسیه کوئ، تاسو **باید** لکه څنګه چې په VI سېکشن کې مشخص شوي، خپل عکسونه تسلیم کړئ . **اړین اسناد او د کاپیو اړین شمېر چې باید له خپل غوښتنلیک سره یې تسلیم کړئ، د دغو لارښوونو په 1 برخه کې** راغلي.

## X. ستاسو د غوښتنلیک تنظیمول

خپل غوښتنلیک په لاندې نظم سره تنظیم کړئ چې یو بشپړ پکېج ترې جوړ شي (که ممکن وي وېې ترې او داسې یې برابر کړئ چې مواد یې په اسانۍ بېل شي):

1. ستاسو اصلي I-589 فورم له ټولو بشپړو شوو پوښتنو سره او هغه غوښتنلیک چې تاسو په D برخه کې لاسلیک کړی او هغه چې کوم برابروونکي په **E برخه**کې لاسلیک کړی؛ او

2. د پاسپورټ په سټایل د تاسو یو عکس چې د فورم په **Dبرخه** کې سټېپلر وي.

**د تاسو د اصلي فورم شاته** I-589, په لاندې ترتیب تنظیم شوي وي:

1. d, G-28فورم، د وکیل یا معتبر استازي د لیدلنې یادښت، چې تاسو او وکیل یا معتبر استازي لاسلیک کړی وي، که چېرې مو د یوه وکیل یا

**د USCISنبراسکا خدماتو محکمه**
**I-589 *UAC***
**P.O. باکس 87589**
**NE، لینکولن 68501-7589**

د کډوالی محکمې ته د استعمايي لپاره د حاضرېدو پر وخت د DHSلپاره له مشاور څخه مو که کومه در لاربښوونې پاڼه ترلاسه کړې وي يا که د روغتيا او بشري خدماتو وزارت له خوا د درکړل شوو اسنادو کاپي لرئ، يا د کډوالو د ځای پر ځای کولو اداري (ORR) چې وښيي تاسو د UACپه توګه د ORR په توقيف کې يئ يا وئ، لکه د ORR د خلاصېدو د تاييد فورم، د مهرباني له مخي دا ډول اسناد د خپل غوښتنليک له پکېج سره تسليم کړئ.

**که تاسو UAC يئ خو د ايستلو په اقداماتو کې نه يئ**، د مهرباني له مخي د خپل غوښتنليک د پکېج I-589 فورم له لاندي لارښوونو سره سم بشپړ کړئ، "*که تاسو د کډوالو محکمې په اقداماتو کې نه يئ يا د کډوالی غوښتنو د بورډ په مخ کې*"

***که تاسو د کډوالی د غوښتنو له بورډ مخکې په اقداماتو کې يئ:***

تاسو کولی شئ خپل I-589 فورم د کډوالی د غوښتلو له بورډ سره دوسيه کړئ، د دي لپاره چې د 8 CFRد 1003.2 او 1003.8 له مخي د قضيې د بيا خلاصولو فکر وکړئ. تاسو کولی شئ يو لومړنی I-589 فورم د کډوالی د غوښتني له بورډ سره دوسيه کړئ، که چېرې يوازې د کډوالی غوښتلو بورډ ستاسو پر قضيه ځار کوي. دا ډول هر حرکت بايد په معقول ډول تشريح کړي چې د پناه غوښتلو مخکينی غوښتنه او/يا له ايستلو د ژغورني مخکينی پروسه ولې ناکامه شوه.

***که تاسو د کډوالی محکمې په اقداماتو کې نه يا مخکې د کډوالی غوښتلو په بورډ کې:***

خبل بشپړ I-589 فورم او نور اضافي معلومات لکه څنګه چې ويل شوي USCISته ولېږئ او يا لاندي د USCISوېبپاڼه وګورئ:
**[www.uscis.gov/i-589](http://www.uscis.gov/i-589)**.

د کډوالو له محکمې سره ستاسو د I-589 فورم پر دوسيه کولو او د امريکا د ګمرکي اقداماتو (ICE) اداري د مناسب اصلي قانوني مشاور د يوې کاپي په برابرولو سربېره، تاسو بايد مخکې له دې چې د کډوالی قاضي مو په قضيه کې اسودګي او خونديتوب ورکړي، لاندي اړين شيان هم بشپړ کړئ.

**لاندې درې موارد د USCISد نبراسکا محکمې خدماتو ته ولېږئ:**

1. ستاسو د بشپړ شوي I-589 فورم د لومړيو دريو پاڼو ښکاره کاپي چې تاسو يې د کډوالی له محکمې سره دوسيه کوئ يا مو کړی، په دې کې بايد ستاسو بشپړ نوم، اوسنی ادرس، اوسنی د لېږلو ادرس او A-شمېره وي. د بشپړ شوي I-589 فورم له لومړيو دريو پاڼو پرته نور اسناد مه تسليموئ؛
2. که درنه غوښتل شوي وي، د G-28 فورم يوه کاپي، د وکيل يا معتبر استازي د ليدلني يادښت؛ او
3. د DHSلپاره د مشورې د وړاندې شوو لارښوونو يوه کاپي چې تاسو د کډوالی د ايستلو د پروسس په لومړی استعمايه کې ترلاسه کړې دي.

**د USCISنبراسکا خدماتو محکمه**
**د کډوالی له محکمې سره د پناه غوښتني دفاعي غوښتنليک**
**P.O 87589 باکس يا چوکاټ**
**NE، لينکولن 68501-7589**

**نوټ:** د I-589 فورم د غوښتنليک لپاره کوم فيس ته اړتيا نشته

وروسته له دې چې دغه درې موارد USCISنبراسکا د خدماتو مکمې ته ورسېدل، **تاسو به لاسته راوړئ:**

1. د USCISله لوري يو يادښت چې دا به پکې ويل شوي وي چې USCISستاسو I-589 فورم ترلاسه کړ؛ او
2. ستاسو او ستاسو د مېرمني او ماشومانو لپاره چې په I-589 فورم کې شامل دي او دوی هم د ايستلو په پروسس کې دي، د ASCيو يادښت. د ASC په هر يادښت کې به د افرادو ځانګړې د اخيستو شمېره وي او هر شخص ته به دا لارښوونه پکې وي چې د بايومتريک (لکه د تاسو عکسونه، فنګرپرينټ او لاسليک) لپاره تر ټولو نېږدې ASC ته حاضر شي. که مو په دريو اونيو کې د ASC يادښت ترلاسه نه کړ، له دغو شمېرو سره په اړيکه کې شئ **1-800-375-5283** (تلګراف: **1-800-767-1833**).

**نوټ:** که تاسو همدارز د اسودګی لپاره چې تاسو د ايستلو د پروسس پر وخت غوښتنه کوئ، لکه څنګه چې د استعمايي په ورځ د DHSلپاره په مشوره کې په وړاندې شوو لارښوونو کې مشخصه ده، نورو فورمونو ته غوښتنليک لېږلی وي؛ نو تاسو به دوه يادښتونه د رسېدو له بېلو شمېرو سره ترلاسه کړئ. تاسو بايد په تمه شئ او دواړه مشخص شوي يادښتونه د ASC ليدڅمني ته درسره يوسئ.

تاسو(او د تاسو مستحقه مېرمن او ماشومان، عمر ته له پام پرته) بايد بيا:

1. **حاضر شئ** په ASC کې د بايومتريک ليدڅمني ته او د ASC له پرېښودو مخکې د بايو متريک **د تاييدي اسناد** ترلاسه کړئ؛ او
2. **وساتئ** د تاسو **د ASC د بايومتريک تاييدي** د بايومتريک د خلاصېدو د ثبوت په توګه او د کډوالی محکمې راتلونکي استعمايي ته يې راوړئ.

**نوټ:** که ته د رسېدو د يادښت اخيستو او د ASC د ليدڅمنو USCISنبراسکا د خدماتو محکمې ته د غوښتنليک د لومړيو دريو پاڼو د کاپي ورکولو په اړه پورتني لارښووني بدلې شوي، تاسو ته به نوې لارښووني د استعمايي په ورځ يا د کډوالی محکمې د پروسس په بل ځای کې درکړل شي. درکړل شوي لارښووني وځارئ، که نه بنايي د ASCد بايومتريک د وخت په اړه معلومات پر وخت ترلاسه نه کړئ.

1. د محروميت، ډيپورټ يا ايستلو د پروسس له بشپړېدو وروسته که غوارئ د 8 CFRد 1003 سېکشن له مخي له کډوالو محکمې سره چې ستاسو مخکيني پروسس يې کړی، قضيه بيا پرانيزئ، بايد په معقول ډول واضح کړئ چې مخکيني غوښتنه مو ولې رد شوه؛ يا
2. د 8 CFRد 208.2(c) او 1208.2(c) له مخي اقداماتو کې او وروسته له دې چې I-863 فورم، د کډوالی قاضي ته د راجع کېدو يادښتونه، موږ برابر او د کډوالی له محکمې سره مو دوسيه کړ، د کډوالی يو قاضي به په ځانګړي ډول ستاسو پر قضيه ځار کوي.

***له همراه پرته بېګانه ماشوم (UAC) لپاره د ځانګړي دوسيې جوړولو لارښووني***

که تاسو ماشوم يئ، د ايستلو په اقداماتو کې يئ او د UAC دوسيه جوړوئ، ستاسو د غوښتنليک بشپړ پکېج بايد دلته ولېږل شي:

| **که تاسو دلته اوسېږئ:** | **خپل غوښتنليک دلته ولېږئ:** |
|---|---|
| الاباما، ارکنساس، کولاراډو، کولمبيا ولسوالي، فلوريډا، جورجيا، لوئيزيانا، ماريلنډ، ميسيسيپي، نيو مکسيکو، شمالي کارولينا، اوکلاهوما، لوېديځه پېنسلوانيا* (د پيټزبرګ سيمې د اداري تر قانوني ځار لاندې)، ويرجېن ايسلنډ، يوتا، ويرجينيا، لوېديځه وېرجينيا، يا ويومېنګ | **USCISتګزاس د خدماتو مرکز** توجه: I-589<br>6046 N بېلټ لاين سړک.<br>STE. 589<br>ايروينګ, TX 75038-0018 |

یي کړئ؛

5. هغه بېگانه چې د امنيتي مسايلو په سبب يې د INAد 235(c) سپکشن له مخې د ايستلو امر شوئ؛ او
6. هغه بېگانه چې د INA د (S)(15)(a)101 سپکشن له مخې د S ناکېوالی حالت ترلاسه کړی (لکه شاهدان او خبر رسوونکي). د دغو کټگوريو کسان چې له USCISخدماتو مرکز سره د پناه غوښتلو دوسيه جوړوي، د I-863 فورم، د کېوالی قاضي ته د راجع کولو يادښت، له مخې چلند ورسره کېږي؛ لکه چې دوی د USCISپناه غوښتلو اداري ته حاضر شي يوازې د پناه غوښتلو د استمعايي لپاره به د کېوالی محکمي ته راجع شي.

که له پورتنيو کټگوريو په يوه کې يئ او تر اوسه د I-863 فورم نه دی درکړل شوی، کولی شئ خپل بشپړ I-589 فورم له هغه USCISخدماتو مرکز سره دوسيه کړئ چې ستاسو پر غوښتليک قانوني څار لري. د پناه غوښتلو د اداري مشر بنايي دا غوره کړي چې تاسو ته I-863 فورم درکړل شي، په دې صورت کې د اداري مشر ستاسو د پناه غوښتليک د کېوالی يوې مناسبې محکمي ته وړاندې کوي.

که تاسو يو بېگانه خدمه يئ، په توقيف کې يئ او I-589 فورم درکړل شوی، همداراز د ځان پر ځای د کيل لرلو له حق څخه خبر يئ او پر دې هم پوهېږئ چې د بې معنی غوښتليک جوړول څه پايلې لري، تاسو 10 ورځې وخت لرئ چې خپل بشپړ I-589 فورم د امريکا د کېوالی او گمرکاتو اجرآتو (ICE) د سيمه‌ايزې اداري مشر ته تسليک کړئ چې پر هغه بندر قانوني څار لري چې ستاسو کښتی ترې راغلې. د سيمه‌ايزې اداري مشر کولی شي د يوه مناسب دليل لپاره دغه 10 ورځې وخت اوږد کړي. کله مو چې غوښتليک دوسيه کړ، د سيمه‌ايزې اداري مشر تاسو ته I-863 فورم درکړي او ژر به مو غوښتليک د کېوالی مناسبې محکمي ته راجع کړي.

## 2 برخه. له دوسيه کولو وروسته اړتياوو په اړه معلومات

### I. د ادرس بدلولو په صورت کې د خبر ورکولو اړتياوې

که مو ادرس بدل کړ، تاسو بايد په 10 ورځو کې په ليکلي بڼه USCISته خبر ورکړئ.

کله مو چې د پناه غوښتنې غوښتليک د پناه غوښتنې له اداري سره تر کار لاندې دی، تاسو بايد دغه اداره د AR-11 فورم، د بېگانه د ادرس بدلولو کارټ، له لاري خبره کړئ يا په 10 ورځو کې د يوه لاسليک شوي او نېټې لرونکي ليک له لارې USCIS ته خبر ورکړئ.

کوم ادرس چې تاسو يې پر غوښتليک ليکئ، يا ادرس د وروستي بدلون خبر چې تاسو تسليموئ، USCISيې د لېږلو لپاره کاروي. ادرس ته په لېږل شوو يادښتونو کې په کافي اندازه خدمات شامليږي، له شخصي خدماتو پرته چې د هغو لپاره دغو فورمونو ته اړتيا ده: I-122 فورم، بېگانه ته يادښت چې د کېوالی قاضي يې استمعايه ځنډولی؛ I-221 فورم، د سبب ښودلو امر؛ I-862 فورم، د حاضرېدو يادښت؛ I-860 فورم، د چټک ايستلو يادښت او امر.

### II. د پناه غوښتلو د مرکې پروسه

که تاسو د کېوالی محکمي په اقداماتو کې نه يئ، USCISد پناه غوښتلو اداره به مو د تنظيم شوي مرکې له وخت، نېټې او ادرس څخه خبر کړي.

USCISتاسو ته توصيه کوي چې د پناه غوښتلو مرکې ته د I-589 فورم يوه کاپي هم درسره راوړئ. د پناه غوښتلو يو افسر به له تاسو سره له لوړې کولو وروسته مرکه وکړي او ستاسو د ادعا په اړه به يوه پرېکړه وکړي. ډېر وخت له مرکي وروسته نېټي پورې د خپلې قضيې په اړه له پرېکړي نه خبرېږئ.

تاسو په مرکه کې د قانوني استازي حق لرئ، پرته له دې چې د امريکا پر دولت کوم لگښت راشي. (وگورئ **IV سپکشن، د مشوري حق**) تاسو همداراز مرکي ته شاهدان راوستی شئ چې ستاسو پر ځای تصديق وکړي.

**که په روانه انگليسي مرکه مخته نه شئ وړی، تاسو کولی شئ USCISته له کوم لگښت پرته يو شفاهي ژباړن وړاندې کړئ چې هم يې انگليسي روانه وي او هم يې ستاسو ژبه.**

شفاهي ژباړن مو بايد لږ تر لږه 18 کلن وي. لاندې کسان ستاسو شفاهي ژباړن نه شي کېدی: ستاسو وکيل يا استازی، شاهد چې په مرکه کې ستاسي پر ځای تصديق کوي، يا ستاسو د هېواد کوم استازی او کارکوونکی. بنه شفاهي ژباړن مو بنايي د

| که تاسو دلته اوسېږئ: | خپل غوښتليک دلته ولېږئ: |
| --- | --- |
| الاسکا، شمالي کاليفورنيا*، ايداهو، ايلينويز، انديانا، لووا، کانساس، کينټاکي، ميشيگان، مينيسوټا، ميسوري، مونټانا، نبراسکا، شمالي نيوادا*، (د رينو سيمي د اداري تر قانوني څار لاندي)، شمالي ډاکوټا، اوهايو، اوريگان، جنوبي ډاکوټا، واشنګټن، يا ويسکانسين | **د USCISنبراسکا خدماتو محکمه**<br>P.O. باکس 87589<br>NE، لينکولن 68501-7589 |
| اريزونا، جنوبي کلفورنيا*،گوام، هاوايي، يا لوېديځه نيوادا* *(د لاس ويګاس سيمي د اداري تر قانوني څار لاندي)*, | **USCISکلفورنيا د خدماتو مرکز**<br>P.O. باکس 10881<br>لاگونا نيگويل ,CA 92607-0881 |
| کنيکټيکټ، ډيلاوېر، ماسوچيسټ، نيو همپشاير، نيو جيرسي، نيو يارک، ختيځه پينسلوانيا* *(د فيلاډيلفيا سيمې د اداري تر قانوني څار لاندي)*, روډ ايسلنډ، يا ويرمونټ | **USCISويرمونټ د خدماتو مرکز**<br>توجه: پناه غوښتل<br>75 ښکتني وېلډن سړک<br>St. آلبانز, VT 05479-0589 |

***نوټ:** هغه غوښتنه کوونکي چې په کلفورنيا، نيوادا او پينسلوانيا کې اوسېږي او نه پوهېږي چې خپل غوښتليکونه چېرته ولېږي، بايد په خپله سيمه کې د USCISپېرودونکيو خدماتو ملي مرکز د پناه غوښتلو اداري سره په اړيکه کې شي.

**د پېرودونکو د خدماتو ملي مرکز: 1-800-375-5283**
*تلگرف: د هغه چا لپاره چې د اورېدو ستونزه لري:* **1-800-767-1833**

**د کلفورنيا او نيويدا اوسېدونکي**
*د لاس انجليس د پناه غوښتني اداره:* **714-808-8000**
*د سن فرانسيسکو د پناه غوښتني اداره:* **415-293-1234**

**د پنسلوانيا اوسېدونکي**
*د آرلينټون د پناه غوښتني اداره:* **703-235-4100**
*د نيوارک د پناه غوښتني اداره:* **201-531-0555**

د پناه غوښتلو د ادارو په اړه معلومات او دا چې د پناه غوښتني غوښتليک چېرته دوسيه کړئ، د USCISپر وېبپاڼه هم د لاسرسي وړ دي، دلته **www.uscis.gov**.

که تاسو پخوا غوښتنه کړې او د USCISله لوري مو د پناه غوښتنه رد شوې يا دا چې پخوا د ښځې يا خاوند يا د والدينو په ځنډيلي غوښتليک کې شامل وئ خو اوس په دوی پورې تړې نه کڼل کېږئ، خپل بشپړ I-589 فورم د پناه غوښتلو هغې اداري ته ولېږئ چې ستاسو د اوسېدو پر ځای قانوني څار لري. (**www.uscis.gov/asylum**) د پناه غوښتلو د اداري د قانوني قلمرو لپاره دا وېبپاڼه وگورئ) له خپل غوښتليک سره يو ليک يو ځای کړئ او پکې وليکئ چې تاسو پخوا د پناه غوښتنه کړې وه او رد شوې او دا چې اوس په خپلواکه توگه د پناه غوښتنه کوئ. د هغه غوښتليک منبع ذکر کړي چې تاسو پکې په بل چا پسې تړلي وئ.

تاسو په دې صورت کې کولی شئ چې خپل I-589 فورم په مستقيمه توگه د پناه غوښتلو له هغې اداري سره دوسيه کړئ چې ستاسو پر قضيه قانوني څار لري:

1. تاسو د پناه غوښتلو د اداري د رييس يا د بناه غوښتلو د برخې رييس رضايت ترلاسه کړی وي چې داسي وکړئ؛ يا
2. تاسو پخوا د ښځې يا خاوند او يا والدينو په ځنډيلي غوښتليک کې شامل وئ او اوس د دې مستحق نه يئ چې په شريک غوښتليک کې شامل شئ. په دغه ډول قضيو کې، تاسو بايد پر يوه بله پاڼه د پخواني غوښتليک مرجع وليکئ او دا واضح کړئ چې اوس په خپلواکه توگه د پناه غوښتني دوسيه جوړوئ.

د لاندې افرادو کټگورۍ د USCISد پناه غوښتلو په اداره کې د پناه غوښتني د مرکي لپاره مستحق نه دي:

1. ټاکلي بېگانه خدمه؛
2. هغه ټاکلي کسان چې په پټه هېواد ته ننوځي.
3. د ويزې د ابطال د پروگرام درخواست کوونکي د ثبت لپاره؛
4. د ويزې د ابطال پروگرام هغه کسان چې بهر اوسېږي او د حالت تخلف

د جواز غوښتنلیک رد کړي.

د غوښتونکي له لوري د ځنډ د سببونو بېلګې دا دي، خو تر دې محدودې نه دي:

1. د پناه غوښتنې د غوښتنلیک د اصلاح او ضمیمې زیاتولو غوښتنه چې په کار کې ځنډ راولي، لکه په 208.4(c) سېکشن کې چې تشریح دي؛
2. د پرېکړې په اړه د خبرېدو لپاره په حاضرېدو کې پاتې راتلل، لکه په 208.9(d) سېکشن کې چې مشخص دي؛
3. د مرکې له نېټې مخکې تر 14 ورځو کم وخت کې د اضافي معلوماتو د تسلیمولو لپاره د ځنډ غوښتنه، لکه په 208.9(e) سېکشن کې چې راغلي؛
4. د پناه غوښتلو مرکې او بایومتریک ته په حاضرېدو کې ناکامي، مګر دا چې USCISقانع شوې وي، لکه په 208.10(b)(1) سېکشن کې چې راغلي؛
5. په وروسته نېټه د مرکې د تنظیمولو غوښتنه؛
6. د دې لپاره غوښتنه چې قضیه د پناه غوښتلو بل افسر ته ورکړل شي یا د مرکې ځای بدل شي، د دې په شمول چې دغه بدلېدل د نوي ادرس په سبب وي؛
7. له مرکې وروسته د اضافي معلوماتو زیاتولو لپاره غوښتنه؛
8. په مرکه کې د مناسب شفاهي ژباړن په وړاندې کولو کې ناکامي؛ او؛
9. د پناه اخیستو د مستحقوالي د مشخصولو لپاره د بلې غوښتنې په منلو کې ناکامي.

د کار د جواز د اسنادو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د I-765 فورم لارښوونې وګورئ. د کورنۍ هر غړی چې له تاسو یې غوښتې چې د تاسو د پناه غوښتلو په غوښتنلیک کې شامل شي او هغه چې همداراز د کار د جواز اسناد غواړي، باید ځانته خپل I-765 فورم تسلیم کړي.

تاسو کولی شئ د I-765 فورم کاپي د USCISد اړیکو مرکز ته په زنګ وهلو تر لاسه کړئ 1-800-375-5283 یا د USCISله ویبپاڼې **www.uscis.gov**.

## VI. د کار اجازه هغه وخت چې د پناه غوښتلو غوښتنلیک مو ومنل شي

کوم بېګانه چې پناه تر لاسه کړي، کولی شي په امریکا کې کار وکړي او اړتیا نه لري چې د کار د جواز د اسنادو غوښتنه وکړي؛ که بیا هم غواړئ شواهد ولرئ، بنایي د 8 CFRد 274a.12(a)(5) سېکشن له مخې یو EAD درنه وغوښتل شي د تاسو د کار د جواز

## د DHSحریم پادښتونه

**واکونه:** کوم معلومات چې په دغه غوښتنلیک او ورسره شواهدو کې غوښتل شوي، د کډوالۍ او تابعیت قانون د 103,208 او 241(b)(3) او د 8 CFRد 103,208 او 1208 سېکشن له مخې ټولېږي.

**موخه:** پر دغه فورم د غوښتل شوو معلوماتو د وړاندې کولو لومړنۍ موخه دا ده چې په امریکا کې د پناه غوښتلو او له ایستلو د ژغورل کېدو لپاره مستحقوالی مشخص کړو. دغه معلومات همدارز د شکنجې پر وړاندې کنوانسیون له مخې د ایستلو د ځنډولو د غوښتنې لپاره کارېږي.

**افشا کول:** کوم معلومات چې تاسو وړاندې کوئ، اختیاري دي. که څه هم په غوښتل شوو معلوماتو او شواهدو کې پاتې راتلل بنایي وروستۍ پرېکړه وځنډوي او یا یې پایله ستاسو د غوښتنې په خوښه نه وي.

**له معمول سره سمه کارونه:** بنایي DHSد امتیاز په دغه غوښتنلیک کې ستاسو وړاندې شوي معلومات له نورو داخلي، دولتي، محلي او بهرني دولت له ادارو او واک لرونکو سازمانونو سره شریک کړي. DHSهمداراز هغه منل شوي معمولي کارونه څاري چې د ثبوتونو او یادښتونو په سیستم کې خپره شوي [DHSهمداراز USCIS/ 001- بېګانه دوسیه، ضمیمه او د ملي دوسیې څارل او DHSهمداراز USCIS/ 010- د پناه غوښتلو معلومات او له مخکې سکرین کول] دا دلته پیدا کېږي **www.dhs.gov/privacy** او EOIR-001، د ثبوتونو د مدیریت معلوماتي سیستم, 69Fed. 26Reg, 179 (مې 11, 2004) او له دې مخکې. DHSهمداراز بنایي دغه معلومات، لکه څنګه چې مناسبه ده، د قانوني اجرااتو په موخه او د ملي امنیت په کټه وکاروي.

## د USCIS فورمونه او معلومات

تاسو کولی شئ د USCIS فورمونه او د کډوالۍ اړوند معلومات د USCISله ویبپاڼې

ادعا لپاره مهم وي. دغه همکار باید له مرکې مخکې ستاسو په لګښت تیار وي.

**مرکې ته مو د یوه مناسب شفاهي ژباړن په نه راوړلو کې ناکامي له معقول دلیل پرته ناکامي ګڼل کېږي چې مرکې ته نه یئ حاضر شوي. له کوم دلیل پرته مرکې ته نه حاضرېدل بنایي تاسو ته د کار د اجازې درکولو په مخ کې خنډ شي، د پناه غوښتنې غوښتنلیک به مو پرېښودل شي یا به مستقیماً د کډوالۍ قاضي ته راجع شي.**

که کوڼ یئ یا په سختۍ اورئ او ستاسو په به د اشاروي ژبې ژباړن ته اړتیا لرئ، درته درکول کېږي. د پناه غوښتلو د مرکې د خبر تر لاسه کولو وروسته ژر ستاسو د قضیې د پناه غوښتنې له اداري سره په اړیکه کې شئ چې خبر ورکړئ چې تاسو په خپله ژبه کې د اشاروي ژبې ژباړن ته اړتیا لرئ، په دې توګه به له مخکې همغږي شوې وي. که د لاسرسي وړ وي، مرکې ته مو د پېژندګلوی ځینې مواد راوړئ، لکه پاسپورټ، د سفر یا پېژندګلوی نور اسناد، یا I-94 فورم، د راتلو او ایستل کېدو ثبوت. مرکې ته نور اضافي د لاسرسي وړ مواد هم راوړئ شئ چې ادعا مو مستنده کړي او مخکې مو له غوښتنلیک سره نه وي تسلیم کړي. ټول اسناد باید له درېیو کاپیو سره تسلیم شي.

که مو د پناه غوښتنې په غوښتنلیک کې د کورنۍ کوم غړی شامل دی، هغه هم باید مرکې ته حاضر شي او د پېژندګلوی او سفر هر راز اسناد چې لري ورسره را یې دې وړي.

## III. د هغه وخت حالت چې غوښتنلیک مو په جریان کې دی

کوم وخت مو چې غوښتنلیک تر کار لاندې وي، په امریکا کې پاتې کېدی شئ. د پناه غوښتنې له مرکې وروسته، که تاسو ته پناه در نه کړل شوه او د INA, 8 U.S.C. 1227 د 237 سېکشن له مخې د ایستل کېدو مستحق شوئ، یا د INA, 8 U.S.C. 1182 د 212 سېکشن له مخې د منلو وړ نه وئ، د پناه غوښتلو افسر به ستاسو غوښتنلیک له مناسبو اسنادو سره د کډوالو محکمې ته راجع کړي چې د ایستلو له اقداماتو سره یې یو ځای کړي.

## IV. له امریکا بهر سفر کول

که تاسو له I-131 فورم، د سفر د اسنادو لپاره غوښتنلیک، څخه په استفادې پرته له دې چې له USCIS څخه مشروطه ازادي واخلئ، امریکا پرېږدئ، موږ به داسې فرض کړو چې تاسو مو د پناه غوښتلو غوښتنلیک پرېښود. که تاسو تاسو له مخکې مشروطه ازادي اخیستې او هغه هېواد ته بېرته لاړ شئ چې د پکې د شکنجې او اذیت ادعا مو کړې، موږ به داسې فرض کړو چې تاسو خپل د پناه غوښتلو غوښتنلیک پرېښود، مګر دا چې قانع کوونکي دلایل ولرئ.

**نوټ:** د مخکې مشروطې ازادۍ د بدلونونو لپاره د غوښتنلیک پروسه ستاسو په شخصي شرایطو پورې اړه لري. د USCISپر ویبپاڼه له InfoPass څخه د دې لپاره ګټه اخیستی شئ چې په خپله سیمه کې د USCISله اداري سره د غوښتنلیک لارښوونې وګورئ. د مخکې مشروطې ازادۍ اخیستو په اړه معلومات د USCISپر ویبپاڼه د لاسرسي وړ دي، دلته **www.uscis.gov**.

## V. د کار اجازه هغه وخت چې د پناه غوښتلو غوښتنلیک مو په جریان کې دی

یوازې د پناه غوښتلو د غوښتنلیک په دوسیه کولو تاسو په امریکا کې د کار کولو حق نه شئ اخیستی. تاسو باید د کار جواز اخیستو لپاره په تمه شئ چې څو مو د پناه غوښتلو غوښتنلیک له USCISسره تر کار لاندې دی یا 365 ورځې د کډوالۍ له محکمې سره دی. که له هغه وخته 365 ورځې تېرې شوې چې تاسو د پناه غوښتلو غوښتنلیک دوسیه کړ او USCISاو د کډوالۍ محکمې ومانه او د پناه غوښتلو غوښتنلیک مو تر اوسه په جریان کې دی، تاسو کولی شئ له I-765 فورم، د کار د اجازې لپاره غوښتنلیک، څخه په استفادې د کار د اجازې غوښتنه وکړئ. (د 8 CFRدا 208.7(a) سېکشنونه وګورئ).

که چېرې USCISاو د کډوالۍ محکمه ستاسو I-589 فورم د 365 ورځو له پوره کېدو مخکې رد کړي، تاسو د کار جواز اخیستو غوښتنه نه شئ کولی. که مو د پناه غوښتلو غوښتنلیک له 365 ورځو وروسته لا هم له USCISاو د کډوالۍ محکمې سره تر کار لاندې دی، کولی شئ د کار د جواز اخیستو غوښتنه وکړئ.

که تاسو د پناه غوښتلو د غوښتنلیک په پروسس کې د ځنډ سبب شئ او ستونزه تر هغه وخته حل نه شي چې تاسو د کار د جواز غوښتنه کوئ، USCISبه ستاسو د کار

واخلئ، **www.uscis.gov**. که انټرنېټ ته لاسرسی نه لرئ، د USCISد اړیکو مرکز ته په زنګ وهلو یې له USCISڅخه غوښتلی شئ، **1-800-375-5283.** (تلګراف (د کڼو او هغو کسانو لپاره چې په اورېدلو کې ستونزه لري) اړیکه ونیسئ: **1-800-767-1833).**

د پناه غوښتلو او له ایستلو څخه ژغورنې به اړه اضافي معلومات د USCISپر وېبپاڼه شته **www.uscis.gov/asylum** او EOIRوېبپاڼه **www.usdoj.gov/eoir**.

## جريمې

که تاسو قصداً او په لوی لاس یو مهم حقیقت پټ یا تحریف کړئ او له I-589 فورم سره ناسم اسناد تسلیم کړئ، موږ به ستاسو I-589 فورم رد کړو او ښایي ستاسو د کډوالۍ کوم بل امتیاز هم رد کړو.

پر دې سربېره به تاسو د قانون له مخې له بېلابېلو جریمو سره مخ شئ او ښایي تر جنايي قانوني څار لاندې راشئ.

د مشخصو معلوماتو لپاره په 1 برخه کې E برخه وګورئ. د دغو لارښوونو V. سېکشن.

## د کاغذ بازیو د کمولو قانون

هره اداره نه شي کولی معلومات راټول کړي او اړتیا نه ده چې یو څوک د معلوماتو ټولولو ته تر هغه ځواب ورکړي چې څو اداره یو کره او با اعتباره OMBکنټرل شمېره ونه ښيي. د معلوماتو راټولو لپاره د عمومي راپور ورکولو ګنجایش د هر ځواب لپاره تر 12 ساعتونو اټکل شوی، د لارښوونو د کتنې او د فورم د بشپړولو او تسلیمولو د وخت په ګډون. د دغو معلوماتو ټولولو د ګنجایش د وخت او بل هر اړخ په اړه خپل نظرونه، د ګنجایش کمولو لپاره د وړاندیز په ګډون، دلته ولېږئ: د امریکا د تابعیت او کډوالۍ خدمات، د پالیسی او ستراتیژۍ دفتر، د مقرراتو د همغږۍ برخه، 5900 کپیټل ګېټوی ډرایو، د خوړو تمځای#2140، سپرینګز کمپ، 20588-MD 0009; OMB No. 1516-0067. **دغه ادرس ته مو بشپړ I-589 فورم مه لېږئ.**

## د I-589 فورم ضمیمې

**I-589فورم، ضمیمه A**- د دغې برخې د بشپړولو لپاره **A.II برخه**.

**I-589 فورم، ضمیمه B** - د دغې برخې د بشپړولو لپاره **Bبرخه** او **C** او د فورم د بلې هرې برخې لپاره د اضافي معلوماتو وړاندې کولو لپاره.